www.morsmal.no

# Løven og de tre oksene

Pashto- bokmål

- En fortelling fra Somalia





و، نه و، په سو مالیا کې یو ښکلی ځنګل و. د دې ځنګل منځ کې، د لوړو ونو په منځ کې یو پراخه شین چمن پروت و، چې په منځ کې یې یو سیند بهېده. په دې ځای کې درې غوایان اوسېدل، چې یو سپین، یو تور او یو سوربخن رنګ درلود. دوی له یو بل سره نږدې ملګري وو او ګډ ژوند یې کاوه.

Det var en gang en stor og fin skog i Somalia. Midt i skogen, mellom de høyreiste trærne, lå det en grønn, vid slette, med en elv som rant igjennom. Der bodde det tre okser; en hvit okse, en svart okse og en brun okse. De var bestevenner og levde fint sammen.



یوه ورځ زمری د دوی ځای ته ورغی. درې واړه غوایان دومره وډارشوو، چې سره رایوځای شو او

ځانونه یې له زمري سره جګړې ته چمتو کړ. که څه هم زمری له دوی څخه زورو و، خو په ګډه دوی

له زمري څخه زورور وو!

En dag fikk de besøk av en løve. De tre oksene ble *så* redde at de samlet seg sammen og gjorde seg klar til å sloss med løven. For selv om løven var sterk, var de *sammen*, sterkere enn ham!



زمري دوی ته وویل، «وارخطا کیږئ مه، زه خطرناکه نه یم» او په څلورو شوو. «زه د ځنګل هغې بلې خوا ته ژوند کوم او هلته دښته او یوازېتوب دی . کولای نشم چې له تاسو سره پاتې شم؟

مونږ. کولای شوو ملګري اوسو او پر یو بل پاملرنه وکړو.». غوایانو فکر وکړ چې دا یو ښه نظر دی، چې یو زمری مو ملګری وي، داسې یو ملګری چې د نورو خطرناکو حیواناتو پر وړاندې به د دوی ساتنه وکړای شي

«slapp av, jeg er ikke farlig», sa løven og la seg ned på alle fire. «dere skjønner, jeg bor på den andre siden av skogen, og der er det så ensomt og øde. Kan vi ikke bo her sammen, være venner og passe på hverandre.» Oksene syntes det var en god idé å ha en løve som venn, en som kunne beskytte dem mot de farlige dyrene der ute.



يوه ورځ سپين غوايي د باندې په څرځای کې و او دې نورو دواړو د مازديګري يو سترګه خوب کاوه.
زمری د دې دواړو خوا ته ورغی او په غوږونو کې يې ورته وپوسپد: «آيا تاسو پوهيږئ؟ دا سپين غوايي دومره سپين دی، چې د شپې له خوا تېزه رڼا کوي. دا د خطرناکو حيواناتو پام ځان ته رااړوي او هغوې به دلته راشي او مونږ ټول به وخوري.» د دې په اورېدو سره دواړه غوايان ډېر وډار شول . زمري ورته وويل، « راځئ چې دا سپين غوايي وشړو،».

En dag var den hvite oksen ute på beite, mens de to andre tok seg en ettermiddagslur. Da gikk løven bort til de to oksene og forsiktig hvisket i ørene deres: «Vet dere hva? Den hvite oksen er så lys at han skinner skarpt om kvelden. De farlige dyrene der ute vil lett legge merke til ham også komme hit og spise oss alle sammen, la oss jage den hvite oksen vekk».



غوایانو فکر وکړ، چې «زمری رښتیا وايي» او سپین غوایي يې وشاړه.

Da de to oksene hørte dette, ble e veldig redde. «Løven har rett» sa de og jaget vekk den hvite oksen».



لنډه موده وورسته کله چې زمري سپين غوايي يوازې ومومند، نو هغه يې ونيوه او و يې خوړ.

Det tok ikke lang tid før løven fant den hvite oksen alene ved elvebredden og spiste han opp.



يوه موده وروسته زمری د سوربخن غوايي خواته ورغی او په غوږ کې يې ورته پټ وويل: «دا تور غوايي دومره تور دی، چې د ورځې په رڼا کې ښه معلومېږي. دا د خطرناکو حیواناتو پام ځان ته رااړوي او هغوی به دلته راشي او مونږ ټول به وخوري.».

Etter en stund gikk løven bort til den brune oksen og hvisket i øret hans: ‹‹Du vet du hva, den svarte oksen er så mørk at han synes så godt i dagslyset. Alle de farlige dyrene der ute kommer til å legge merke til ham. Også kommer de hit og spiser oss opp alle sammen. La oss jage han bort››.



د دې په اورېدو سره سوربخن غوايي ډېر وډار شو. زمري ورته وويل، «راځه چې و يې شړو». سوربخن غوايي ورسره دا ومنله.

Da den brune oksen hørte dette, ble han kjempe redd. «La oss jage ham bort sa løven». Dette gikk den brune oksen med på.



دومره زيات وخت لا نه و تير شوی چې زمري تور غوايي يوازې وموند، هغه يې ونيوه او و يې خوړلو.
له دې وروسته بيرته ولاړ او داسې يې وښودله لکه هيڅ چې نه وي پيښ شوی.

Det tok ikke lang tid før løven fant den sorte oksen alene, fanget ham og spiste ham. Også dro han tilbake og latet som ingenting.



اوس سوربخن غوايي له زمري سره يوازې پاتې شو او دا ځل د ده د خوړلو وار و.

Nå var den brune oksen alene igjen med løven.
Og det var hans tur bli spist opp.



زمري سوربخن غوايي پسې واخيست او ويې نيوه. غوايي تر خپلې وسې پورې جګړه وکړه، خو پرته له خپلو دوستانو يې له زمري سره د جګړې کولو توان نه درلود. زمري خپلې تېرې پنچې او غاښونه راوويستل او غوايي يې وخوړ.

Løven jaget og fanget den brune oksen, og oksen sloss tilbake alt han kunne. Men uten sine venner var han ikke sterk nok til å kunne sloss med løven. Løven tok frem de skarpe klørne og tennene og bet oksen i hjel.



. کله چې سوربخن غوايي وروستۍ سلګۍ وهله، نو و يې ويل: «زه نن ورځ مړ نه شوم، خو هغه ورځ مړ شوم، چې خپل ملګرى مې وشاړه.»

I det den brune oksen tok sitt aller siste åndedrag, sa han:

*‹‹Det er ikke i dag jeg døde, men den dagen jeg jagde bort min venn.››*







Illustratør: Svetlana Voronkova

Se flere fortellinger på morsmal.no